# د ګوډ تیمور خاطرات

عبدالباري جهاني

مقالې

By Admin — Last updated Feb 13, 2020



Download From: Aghalibrary.com

څه موده مخکې مې له کابل څخه د « سوبمن تیمور » په نوم یو کتاب ترلاسه کړ چې د نور افضل عابد په نوم، د خوست یوه ځوان، لیکوال له فارسي ژبې څخه ترجمه کړی او د دانش خپرندویې ټولنې په ۲۰۱۷ کال کې ورته چاپ کړی وو.



ګوډ تیمور

د تیمور خاطرات، تزوکات تیموري  یا ژوند لیک، ما له مهاجر کېدلو څخه مخکي لوستي وه او څه باندي پنځه ویشت کاله مخکي مي د تزوکات تیموري په نوم کتاب، چي له انګلیسي ترجمې سره یو ځای چاپ سوی، او نسخې یې اوس هم نایابه دي، په کابل کي تر لاسه کړ. په هغه وخت کي چي زه لا په کابل کي وم؛ زموږ د تاریخ استادانو او سپین ږیرو توزوکات تیموري ته د شک په سترګه کتل او د توزوک بابري، توزوک جهانګیري او همایون نامه په څېر یې د استناد او مراجعې وړ کتاب نه باله.

د تزوکات تیموري فارسي متن، یا ترجمه، د ابوطالب حسین تُربتي په نوم یوه سړي د شاه جهان مغول د سلطنت په لسم کال ۱۷۳۶ کي د هغه دربار ته راووړ. ابوطالب ویل چي دا کتاب یې په حرمین کي د یمن د واکمن جعفر پاشا په کتابخانه کي پیدا کړ او هلته یې سمدستي په فارسي ژبه ترجمه کړ. محمدافضل بخاري، چي دغه کتاب، د شاه جهان له خوا، د کتلو او بهترولو لپاره ورسپارل سوی وو، لیکي چي کله امپراطور شاه جهان د امیر ابوطالب دغه کتاب ولووست نو ویې ویل چي په دې کتاب کي غلطی او اشتباهات موجود دي. امپراطور وویل چي په دې کتاب کي داسي پیښي راغلي دي چي د شرف الدین علي یزدي له ظفرنامې او نورو تاریخي کتابونو سره سر نه خوري او داسي پیښي پکښي راغلي دي چي په نورو

نه خوري او داسي پيښي پکښي راغلي دي چي په نورو تاريخي کتابونو کي نه دي راغلي. بخاري وايی چي امپراطور دا کتاب ماته را وسپاره څو په دقيقه توګه يې وګورم او غلطی او اشتباهات يې اصلاح کړم.

ايليټ دريم ټوک ص ۳۹۲

که څه هم چي ما پخپله په دې دوارو نسخو کي يوه هم نه ده کتلې خو د ايليټ په ليکنه کي د دې دوارو متونو په باب يوه په زړه پوري خبره لولو او هغه دا چي دی وايي تر هغه ځايه چي په هند پوري اړه لري نو دواړه متون يو شان دي. د دواړو متونو وروستی جملې يو څه توپير سره لري خو په دواړو کي تيمور د خپلي مړيني خبره ليکي. د محمد افضل په متن کي د تيمور له قوله راغلي دي چي وايي« زه د اترار کلي ته ورسيدم او مړ سوم» مګر د ابوطالب په متن کي راغلي دي چي « د شعبان د مياشتي پر اووه لسمه مي د خدای نوم ياد کړ او بې هوښه سوم؛ او خپل

خالص روح مي ستر خالق ته وسپاره » میجر
سټیوارټ د تیمور له خوا د خپلي مړیني په باب
لیکني کولو ته متوجه دی مګر وایي په دغه یوه خبره
باید موږ دا ټوله لیکنه جعلي ونه بولو... هغه کتاب
ص ۳۹۴

مجتبی مینوي، پر تزوکات تیموري باندي د خپلي
لنډي مقدمې په ترڅ کي لیکي« په دې برخه کي ډېر
قوي شک موجود دی چي ابوطالب حسینی ریشتیا نه
دي ویلي او ټول کتاب یې له ځانه جوړ کړی او د
نظام الدین شامي له ظفر نامې او د شرف الدین علي
یزدي له ظفرنامې څخه به یې ګټه اخیستې وي، په
تېره بیا دا چي د ده په کتاب کي ډېري زیاتي تاریخي
غلطی موجودي دي. د ملفوظات صاحبقراني په نوم
بل کتاب څخه چي افضل بخاري ترتیب کړی دی
ي چي کله په کال ۱۰۴۷ ( ۱۶۳۷ م) ابوطالب

حسيني خپل دغه کتاب شاه جهان ته تقديم کړ او هغه ته ولوستل سو نو هغه پاچا د کتاب غلطيو ته متوجه سو او وې ويل چي د دې کتاب او ظفرنامې ترمنځ اختلافات موجود دي. کتاب يې د تربيت خان بخاري زوی محمدافضل ته وسپاره او هغه ته يې امر وکړ چي غلطی ورڅخه ليري کړي او هغه عبارات چي ابوطالب حسيني له ځانه جوړ کړي دي ورڅخه وباسي او کتاب له سره او په يو څه تفصيل وليکي او هغه دا کار وکړ» تزوکات ص ص ۴-۵

مينوي په خپله دغه مقدمه کي يوې بلي ښې نکتې ته اشاره کوي او هغه دا چي وايي د تيمور په وخت کي د هغه د ژوند د پېښو په باره کي ياداشتونه اخيستل کېدل او د پيښو په باره کي ليکني کېدلې خو هغه ليکني ده نه کولې بلکه نورو واقعه نګارانو کړې. ځکه چي غياث الدين علي يزدي ته د دې کار

د انسجام مسوولیت سپارل سوی وواو نظام الدین شامي او شرف الدین علي یزدي دواړو د هغه له اسنادو او مدارکو څخه استفاده کوله. نظام الدین شامي وایي تیمور ورته وویل چي د هغه د اعمالو او جنګونو په باره کي یو تاریخ ولیکي خو په دې شرط چي لیکنه یې ډېره پېچلې نه وي او لکه علماوو چي د ښې لیکني په باره کي ویلي دي چي ما تُدرکه العامه و لا تُنکره الخاصه ( نه د عوامو په سویه وي او نه داسي مشکله وي چي خواص په ونه پوهیږي. جهاني)

مینوي لیکي چي شرف الدین علي یزدي په دې باره کي په تفصیل ږغېدلی دی او وایي چي له امیرصاحب قران سره په سفر او حضر کي علما، سیدان، فقها او د پوهي او فضل خاوندان ملګري ول او چي هر څه به پېښېدل، د هغو په باره کي یې تحقیق او پلټني کولې

ي پیښي یې په تفصیل لیکلې. او ټولو ته حکم

سوی وو چي هره پېښه لکه څرنګه چي ده هغسي
ولیکي او لاس وهنه پکښي ونه کړي. هغه کتاب ص
ص ۵-۶

که څه هم چي هغه کسان چي تزوکات او ملفوظات
یې ترجمه کړي او په څېړلو یې خوارۍ کښلي دي د
ابوطالب حسیني د تزوکات په ګټه راز راز دلایل وایي
خو لومړی لکه څرنګه چي مینوي د نظام الدین شامي
او شرف االدی علي یزدي له قوله وایي چي تیمور
خپل پوهان د یاداشتونو اخیستلو ته تشویقول مګر
پخپله یې څه نه لیکل سړی د دغه کتاب په باب د
شک څرګندولو او حتی پر جعلي بللو یې د یقین کولو
جرأت کولای سي.

که تیمور څه لیکلي وای نو ضرور به یې د خپلي لیکني شل دېرش نسخې ترتیب کړي وای؛ ځکه چي ده خو دا لیکنه د ځان لپاره نه کوله بلکه خپل اولاد او لمسیانو ته یې د ښه حکومت کولو په باره کي توصیې کړي دي او دا توصیې یې باید د خپلو ټولو زامنو او لمسیانو تر لاسه ور رسولي وای. ځکه چي ده خو د ځان لپاره پټه لیکنه نه کوله چي باید هیڅوک یې ونه ویني او محققین تر اوسه حیران دي چي هغه اصلي ترکي نسخه چي ګواکي تیمور به لیکلې وه بالاخره څه سوه.

د تیمور خاطراتو یا توزوکات ته نه د هغه د زوی شاه رخ په دربار کي نه په سمر قند کي د هغه د لمسي الغ بېګ په دربار کي او نه د سلطان حسین بایقرا په دربار کي، چي ټول د علم، فن او هنر مرکزونه ول چا اشاره قدر نه ده کړې. د میرزا حیدر دوغلت په تاریخ رشیدي کي، چي په مرکزي اسیا کي د مغولو مفصل تاریخ دی، او د تیمور په باب ښه زیات بحث لري، د میر خوند په روضته الصفا کي، د بابر په تزوک کي، د ګلبدن بېګم په همایون نامه کي... په یوه کتاب کي هم د تیمور خاطراتو ته اشاره قدر نسته. او کله چي یې له یوازینی نسخې څخه فارسي ترجمه شاه جهان پاچا ته تقدیمېږي هغه یې پر ریښتینوالي باندي شک ښکاره کوي.

په هر صورت، زموږ ځوان لیکوال چي دومره زیار

ګاللی او کتاب یې په څه باندي اووه سوه مخه کي له

فارسي څخه ترجمه کړی دی نو باید چي د « منم

تیمور جهانکشا » په نوم کتاب د فارسي مترجم ذبیح

الله منصوري لنډه مقدمه یې هم ورسره لوستې او

ترجمه کړې وای. زموږ پښتو مترجم به متوجه سوی

وای چي د فرانسوي ژبي لیکوال مارسل بریون دغه

لیکنه پر یوه جعلي اثر ولاړه ده او که زه د ده پر ځای

وای نو د دې کتاب پر ځای به مي د شرف الدین علي

یزدي ظفرنامه ترجمه کړې وای. هغه کتاب که هر

ډول دی خو لیکوال یې معلوم دی او چا دا نه دي

ویلي چي دا کتاب جعلي او نقلي دی. زه نه وایم چي

زموږ ځوان لیکوال نور افضل عابد ښه کار نه دی کړی

دا کتاب یې ترجمه کړی دی بلکه پښتو ژبه د هر

کتاب ترجمې ته اړتیا لري خو دونه خبره ده چي په دې برخه کي باید اولیتونه په نظر کي ونیول سي. خپل لوستونکو ته باید زیاتره ګټور او ضروري آثار ورکړو او د کتابونو له ترجمه کولو څخه مخکي د خپلو نیږدې استادانو څخه سلا مشوره وغواړو. ځکه چي موږ هم ډېر کم زحمتکښ لیکوالان او مترجمین او هم ډېر کم لوستونکي لرو.

په زړه پوري خبره خو دا ده چي ذبیح الله منصوري دې ټکي ته نه دی متوجه سوی چي تزوکات تیموري له ترکي څخه فارسي ته ترجمه سوی او ترکي نسخه یې چاته معلومه نه ده او د جنجال اصلي ټکی همدغه دی. دی وایی څرنګه چي مترجم د تاریخ ښوونکی نه دی تر څو د خپل مسلک په اساس تاریخي تحقیقات وکړي نو په دې نه پوهیږي چي آیا د دې هغه فارسي یوازینی نسخه چي فرانسوی

مارسل بریون وایی د یمن د حاکم جعفرپاشا سره وه اوس سته کنه؟ او که هغه یوازینی نسخه موجوده هم وي تر اوسه نه ده چاپ سوې او دا دی دغه کتاب د مارسل بریون په همت د لوستونکو ترلاسونو ورسېدی.

منصوري ص ز

د تزوکات تیموري فارسي متن، په ډېر غټ فونټ ترتیب سوی او ټول دوه سوه مخه دی چي په عادي فونټ سل مخه هم نه کیږي. خو د مارسل بریون له کتاب څخه د نصرالله منصوري د ترجمه سوي فارسي کتاب « منم تیمور جهانکشا » متن، په ډیرو میده تورو، ۴۳۲ مخه کیږي چي زموږ پښتو مترجم له هغه څخه څه باندي اووه سوه مخه « سوبمن تیمور» پښتو جوړ کړی دی.

زه د کتاب له ټول متن سره ځکه غرض نه لرم چي د پخوانیو او اوسنیو محققینو په استناد او د خپل منطق په حکم  د تزوکات تیموري متن، چي د مارسل بریون ټول کتاب پر هغه باندي ولاړ دی، جعلي بولم. او پر جعلي کتاب باندي ډېر بحث کول لازم نه دي. خو د مارسل بریون د کتاب یوه فصل ته، چي مستقیما زموږ له هیواد سره اړه لري یوه لنډه اشاره کوم او په دې توګه خپل لوستونکي دې ټکي ته متوجه کوم چي د مارسل بریون د کتاب زیاتي برخي ښایي هیڅ تاریخي مدرک او مأخذ ونه لري. او ګمراه کونکي وي.

تیمور د خپلو خاطراتو په لړ کي یو وخت د غور له پاچا ابدال کلزایي سره مخامخ کیږي. د غور پاچا د تیمور ټول هغه دوه سوه پنځوس رپوټ ورکوونکي وژلي دي چي د لارو او سیمي د احوال د معلومولو لپاره یې لیږلي ول. د بیرجند حاکم تیمور ته وایي چي د غور پاچا له هرات څخه تر کابل پوري سیمه په لاس کي لري او د هغه اېلول او د هغه د سیمي لاندي کول د هر چا له وسه وتلی کار دی. تیمور بالاخره له ابدال کلزایي سره جنګ کوي. تر سختو تلفاتو ورکولو وروسته فیروز آباد ورڅخه نیسي او ابدال کلزایي هم ټپي کیږي او تیمور ته ژوندی راوستل کیږي. ابدال کلزایي، که څه هم چي سخت ټپي دی او تیمور یې په مرګ تهدیدوي، د تیمور هیڅ ډول شرایط نه مني او تیمور له هغه سره، د خپل ټول خونکار فطرت په

خلاف، ډېر سم سلوک کوي او دومره ځواني ورسره کوي چي د تیمور له طبیعت سره په هیڅ ډول نه جوړیږي. عابد ص ص ۳۷۶-۳۹۵

ټولو لوستونکو ته معلومه ده چي د غور په تاریخ کي په هیڅ وخت کي د ابدال کلزایي په نوم پاچا یا داسي څوک نه دی تېر سوی چي ابدال کلزایي ته مشابه نوم ولري. دا ټوله کیسه چي تر دېرش مخونه زیات یې په تور کړي دي وچ کلک جعل دی. ګواکي موږ د تزوکات تیموري له جعل سره ستونزه درلوده دا دی غونډ کتاب له داسي خبرو ډک دی چي یوه له بلي سره نه لګیږي. سړی نه پوهیږي چي فرانسوي لیکوال مارسل بریون به دا دونه جعلکاري ولي کړې وي او ذبیح الله منصوري، د یوه لوی لیکوال او عالم په ، دا کتاب ښرنګه د ترجمې لپاره انتخاباوه؟

ابدال کلزايي څوک دی. فیروز آباد چیري وو؟

لیکوال د خپل کتاب په یوه ځای کي د تیمور د تر ټولو کشر زوی سعد وقاص نوم یادوي چي د لوني د قلا کوټوال، کارتار، یې په ژوندوني سینه ورځیري او پوست یې له بوسو ډکوي. تیمور د کارتار او خپل اته لس کلن زوی، چي د پوځونو قوماندانی یې ورسپارلې ده، ترمنځ خبري په داسي شکل ثبتوي لکه دی چي هلته په کوم ځای کي پټ ورته ولاړ وي او ټولي خبري یې اورېدلي وي. هغه کتاب ص ص ۵۰۸-۵۱۷

موږ ټولو ته معلومه ده چي تیمور د سعد وقاص په نوم زوی هیڅ وخت درلودلی نه دی  او نه یې په دغه نامه کوم چاته د پوځونو سپه سالاري سپارلې ده.
تیمور څلور زامن درلودل. غیاث الدین جهانګیر
چي د پلار په ژوند کي، په سمرقند کي وفات

ميرزا، چي د پلار په ژوند کي، په سمرقند کي وفات سو. عمر شيخ ميرزا، چي هغه هم د پلار په ژوند کي وفات سو. جلال الدين ميران شاه، چي د پلار له وفات څخه وروسته، د قرايوسف ترکمان سره په جنګ کي ووژل سو. ميرزا شاهرخ، چي د پلار له وفات څخه وروسته يې له ايران څخه تر هند او ماوراألنهر پوري سيمو باندي دري څلوېښت کاله پاچهي وکړه.

ابولفضل ص ص ۸۱-۸۲

کله چي د سعد وقاص، کارتار، سپه سالارشيربهرام مروزي، ابدال کلزايي او نورو کسانو په څېر اشخاص، چي په تاريخ کي له سره موجود نه وي، يوه کتاب ته ور داخل سي نو د تاريخ استادان او لوستي کسان به تر يوه حده پوري په غلطي پوه سي مګر د ښوونځيو او پوهنتون له شاګردانو او هغو کسانو څخه چي تاريخ [illegible]حنداني لوستی نه وي لاره ورکوي او پر غلطه يې [illegible]ي.

## مأخذونه

۱: عابد، نور افضل. سوبمن تیور. د مارسل بریون راټولونه او د عابد پښتو ترجمه. دانش خپرندویه ټولنه. ۲۰۱۷

۲: ابوالفضل، شیخ. اکبرنامه، جلد اول. ډهلي جدید. چاپ اول ۱۸۷۷. چاپ دوم ۱۹۷۷

۳: تربتي، ابوطالب حسیني. تزوکات تیموري با ترجمه انګلیسی. از روی چاپ اکسفورډ ۱۷۷۳ به طریق افسیټ. طهران. میدان بهارستان ۱۳۴۲



د ګوډ تیمور امپراتوري له ارمېنیا نه تر افغانستان او سمرقند نه تر سیبېریا پورې سوروره او اوږده غځېدلې وه

**ګوډ تیمور له یو نامعلوم حالت نه د ۱۴ پېړۍ د ولسونو په فاتح واوښت، او هر لوری یې خپل غلیمان ځپلي وو. لیکوال جسټن مورازي چې (ګوډ تیمور: د اسلام توره، او د نړۍ فاتح) کتاب لیکوال دی، وايي دا په یو داسې وخت کې چې جسمي زور او ځواک لمانځل کېده، پوره اتلولي ګڼل کېده.**

د زماني په اوږدو کې د ټولو وختونو او فرصتونو سترو فاتحانو په اړه که فکر وشي نو چنګېز خان او ستر اسکندر سمدلاسه په نوملړ کې راځي. خو که یو څوک له منځنۍ اسيا یا هم اسلامي نړۍ وي نو هرو مرو به د ګوډ تیمور له نامه سره هم یو څه تمېږي.

خو دغه تاتار جنګسالار چې په ۱۳۳۶ میلادي کال کې د نن ورځې ازبکستان په سمرقند کې زېږېدلی و، په ډېرو اړخو کې له مقدوني پاچا او مغولي جنګسالار زيات ځلېدلی و.

**ټمبورلېن دا ګرېټ "Tamburlaine The Great"**



- د شکسپیېر ملګري او سیال کرېسټوفر مارلو د ډرامې موضوع
- ټمبورلېن دا ګرېټ (۱۵۹۰) د ډرامې اتل چې د وزو له پوونکي پر نړۍ تر ولکې پورې لوړېږي: "د خدای رټنه او غوسه/ د نړۍ یوازینۍ وېره او ترهه"
- د ۲۰۰۵ کال تولید پر دې نیوکې وپارولې چې د کیسې داسې ځایونه یې بدل کړي وو، چې ټمبورلېن په کې قرآن سوځوي.

له اسکندر سره په توپیر ګوډ تیمور له شاهي وینې نه و، بلکې له یوه خوار نسله و. ده د نړۍ نیولو زورکاروني خپل کړه وړه، د منځنۍ اسیا غرنیو او لوړو کوتلونو کې د رمو په غلا پیل کړل.

او له چنګېز خان سره په توپیر ده یو ولس نه درلود چې د پوځي برياوو پر لور یې مشري کړې وی، بلکې یو بریالی پوځ یې باید د بېلابېلو او تر ډېره سره تیتو ولسونو له یو عجیب ډول لوی شمېر جوړ کړی وی.

هغه وخت چې دی د ۱۴۰۲ کال جګړه کې عثماني سلطان لومړي بایزید سره مخامخ شو سرتېري یې له ارمېنیا نه تر افغانستان او سمرقند نه تر سیبېریا پورې د ده د سوروري او اوږدې امپراتورۍ له بېلابېلو سیمو وو.

له دغو نیمګړتیاوو تېرېدا او پرې برلاسی یوه مسئله وه. خو هغه څه چې تر ډېره د پام وړ او حیرانۍ خبره وه، دا واقعیت و چې تیمور په خپل ښي اړخ کې

سخت معیوب و.

د زېږېدو پر مهال، پر ده د تیمور نوم کېښودل شو، چې معنا يې وسپنه ده. بيا وروسته له هغه چې په خپله ځوانۍ کې د ښي اړخ پر لاس او پښې په ويجاوړونکي ډول ټپي شو، د نيمګړتيا کلمه هم ورسره مله شوه او ګوډ تيمور (يا په فارسي کې تيمور لنګ) وبلل شو. په همدې ډول دی په لوېديځ کې هم پر (Tamburlaine) یا (Tamerlane) مشهور دی.

دا ډول فيزيکي نيمګړتيا په يو داسې وخت کې چې د جنګ بدني مهارتونه د سياسي ځواک لپاره يو اړين شرط و، د ډېرو نارينه وو لپاره ځپونکی ګوزار بلل کېده.

زلمي تيمور به له سيمه ييز متل نه خبر چې وايي "يوازې يولاس چې توره نيولی شي، پاچاهي هم نيولی شي".

په دې وحشي نړۍ کې ځاني پرمختګ په لاس په لاس جګړه او د اس سپرلۍ غشي ويشتنه کې تکړه والي او توريالیتوب پرته ناشونی دی.



ګور تیمور په سمر قند کې ګوډ تیمور مقبره ده

د تيمور ټپي کېدو په اړه مو سرچيني په شک کې نه پرېږدي، که څه هم په دې اړه خبره باوري نه ده چې ټپونه څنګه ورپېښ شول.

کېدی شي دا په ۱۳۶۳ ميلادي کال کې پېښ شوي وي، کله چې تيمور د سيستان خان لپاره د اجير جنګيالي په توګه خدمت کاوه، او د افغانستان په جنوب لوېديځ کې هغه ځای چې نن (دشت مرګو) نومېږي ټپي شوی وي.

يوه بله سرچينه (ابن عربشاه، چې د ۱۵ مې پېړۍ يو سوری تاريخ ليکوال دی) وايي يوه څک شپانه پر ګوډ تيمور خپل نظر ساتلی و، چې د ده رمې چاپېر ګرځېده، چې په ښه ډول په نښه شوي غشي يې د ده اوږه ورماته کړه، او يو بل يې په ښه تدبير سره پر ورانه ورخوشي کړ.

کلاويجو د اسپانيا سفير و، چې په ۱۴۰۴ ميلادي کال کې يې له سمرقند ليدنه وکړه. دی د دې يادونه کوي چې ګوډ تيمور څنګه د سيستان اس سپرو له يوې ستړې ډلې سره مخامخ شو، چې د ده ډېر جنګيالي يې وژلي وو.

"دوی دی هم له اس وپرځاوه، او پر ښۍ پښه يې ټپي کړ، هغه ټپ چې ټول ژوند ترې ګوډ پاتې شو، پر دې سربېره يې پر ښي لاس هم ټپ وخوړ، چې ورسره يې وړه ګوته او څېرمه ګوته له لاسه ورکړې."

**ازبکستان – د ګوډ تيمور ټاټوبی**




- د ۴۴۷۴۰۰ کيلومترو په پراخوالي د جرمني په پرتله پراخه مځکه پوښي، او د وګړيو شمېر ۲۸ مليونو ته رسېږي.
- په ۱۹۹۱ کال کې يې خپلواکي اخيستې، خو وروستی کمونست مشر اسلام کريموف لا تر اوسه د يو ګوند پر دغه دولت واکمني کوي.
- په ۲۰۱۲ کال کې د نړۍ تر ټولو ځپونکي هېواد په توګه ونومول شو، د ښښنې نړيوالې ټولنې له بشري حقونو پراخې سرغړونې په ګوته کړې دي.
- دغه هېواد ګوډ تيمور د ملي اتل په توګه لمانځي. په ۲۰۰۰ کال کې ولسمشر کريموف خپل ولس ته وويل "تاسې د سترو خلک نسل ياستئ، په خپلو لاسونو کې د تيمور ځواک لرئ".
- د ګوډ تيمور مجسمه چې پر اس سپور دی، په پلازمېنه تاشکند کې د کارل مارکس مجسمې پر ځای درول شوې ده.

د شوروي اتحاد لرغونپانو يوه ډله چې ميخائيل ګيراسيموف يې مشري کوله په ۱۹۴۱ کال کې يې په سمرقند کې د تيمور په زړه پورې مقبره پرانيسته، او ويې مونده چې دی ګوډ و، او د ۵ فوټو ۷ انچو د يوې ښې ونې سړی و.

د ده ښۍ پښې ټپ، په هغه ځای کې چې د ورانه هډوکی په کې د زنګانه له سترګې سره نښلي، د چپې پښې په پرتله يې لنډه کړې وه، نو له همدې ځايه يې نامه سره د معيوبيت کلمه نښتې وه.

د تګ په وخت کې به يې ښۍ پښه ورپسې کاږله، او چپه اوږه يې ليدل شوې چې ناطبيعي ډول له ښۍ لوړه وه. پر ښي لاس او څنګل يې نور ټپونه هم موندل شوي وو.

د ده د ۱۴ مې پېړۍ غليمان، لکه عثماني امپراتور، او د بغداد او دمشق واکمنو ته د تيمور ګوډوالي د خندا او مسخرې اسنه فرصت په لاس ورکړی و، خو په جګړه کې يې د ماتولو په پرتله مسخره کول اسانه وو.

ان عربشاه چې د ده تر ټولو سخت ګوتنيونکی ليکوال دی، دا منلې چې دی"په ځواک او ميړانه کې ستر" و يو "تکړه او مېړنی" مشر چې د "وېرې او تابع کولو الهام" يې ورکاوه.

د ۱۸ مې ميلادي پېړۍ تاريخ پوه اېډوارډ ګېبون د ګوډ تيمور په اړه ويلي د ده زورواکه پوځي وړتيا له خپل ارزښت سره سمه پام نه و ورجلب کړی.

هغه وخت چې دی په ۱۴۰۴ کال کې د چین مینګ امپراتور پر وړاندې جګړې ته پر لار ومړ، ګوډ تیمور له ۳۵ کلنې پرله پسې مبارزې وروسته د کومې جګړې پر ډګر ماته نه وه خوړلې.

# ګوډ تیمور په ریښتیا هم معیوب و؟



**ژباړه: امان الله عطا عمران**

لندن